# وزوزی



Download from:aghalibrary.cm

د شاتو د مچیو ملکه د کندو په منځ کې پر تخت ویده وه. دوې مچۍ د تخت دواړوو خواوو ته ولاړې وې بابوزې یې په لاسو کې نیولې ووا و هغې ته یې پکه وهله.

د کوم چا د زګېرویو اواز ملکه راویښه کړه. هغې خپلې سترګې وموښلې او خوله یې ارږمي ته خلاصه کړه. بیا یې تندی تریو شو او ویې ویل : دا څوک وو چې زه یې له خوبه راویښه کړم. اوف څومره خواږه خوب یې راخراب کړ.



Download from:aghalibrary.cm


یوه عسکر وویل : هغه  تېږي وزوزی دی  چې هره ورځ زګېروی کوي.

ملکې وویل : ژر یې له کندو وباسئ. ایسته یې واچوئ.

بنګهارۍ د وزوزي  مېرمن  ملکې ته زارۍ وکړې چې خیر دی هغه مه اوباسئ. هغه ناروغ دی. زه به یې غلی کړم. کوم ګوښه ځای کې به یې پټ کړم چې غږ یې ونه ووځي.

خو ملکې په قهرجنه ژبه وویل : ماغزه مې ډېره مه خوره . ځه رنګ دې ورک کړه.

دوه عسکران راغلل  وزوزي یې تر لاس او پښو ونیوه او له کندو یې د باندې واچاوه. بنګهارۍ خس او خځلې راټولې کړې وزوزي ته یې یوه کوټنۍ جوړه کړه او د هغه په خدمت لګیا شوه.



ملکې نوره بې غمه خپل خوبونه کول. عسکرو ورته پیرې کولې. کارګران  به په ګلونو ګرځېدل  شات به یې راټولول او کندو ته به یې راوړل.

څو ورځې چې تېرې شوې یوه ورځ مازدیګرچې ټول کارګران په شاتو پسې تللي وو شنو غامبوسو د دوی پر کندو برید وکړ. عسکرانو  تورې راوایستې  زغرې یې واغوستلې او د غامبوسو جنګ ته راووتل. د تورو شرنګا پورته شوه.



شنو غامبوسو د کندو درېڅې خوا ته زور کاوه او د شاتو مچۍ يې مخه نيوله. د غامبوسو کسان زيات وو نو د شاتو مچۍ يې د کندو له دروازې څخه لرې کړې. دې وخت کې يو څو دانې شنې غامبوسې کندو ته ننوتلې.

ملکه بې غمه پرته وه. يو وخت گوري چې شنې غامبوسې يې پر سر باندې گرځي . نژدې وه چې هغوی ملکه پورته کړي او له ځانه سره يې يوسي. ملکه سخته وېرېدلې وه. ځان يې راټول کړی و او سر يې تر وزرو لاندې پټ کړی و. له ډاره يې سترگې نه خلاصولې.



د شاتو د نورو کندوانو عسکران خبر شول. هغوی ځانونه په منډه راورسول او غامبوسې یې پسې واخیستې. ملکې د بل کندو د عسکرانو له مشر څخه مننه وکړه : ډېره مننه که تاسو نه وای رارسېدلي نو اوس به زه دلته نه وم.تاسو زما پادشاهي وساتله.

د عسکرو مشر وویل : دا خو زموږ د ټولو په خیر ده چې له یو بل سره مرسته وکړو. یو وخت زموږ پر کندو همداسې برید شوی و. ستا د کندو عسکرو زموږ مرستې ته راودانګل. یو تن پکې ډېر مېړنی و ، هغه خوارکی بیا ټپي شو. ریښتیا هغه چېرته دی زه خو یې دلته نه وینم.



ملکې وپوښتل : څوک يادوې ؟

مشر وويل : وزوزی.

ملکې خپلو ساتونکو ته وکتل. يوه ساتونکي وويل : وزوزی خو هماغه دی چې تا له کندو څخه وشاړه.

د عسکرو مشر وويل: دا څه وايې. دومره تکړه عسکر مو څنگه شړلی ؟

د ملکې سترگې له شرمه ټيټې وې. ځان سره يې وويل : ما څومره بد کار وکړ. هغه خوارکی مې له صندوقه وشاړه. ما ټوله ورځ خوبونه کول خو هغه راته پيرې کولې. هغه زما پادشاهي ساتله او زه نه ومه خبره.

څو شېبې چا غږ ونه کړ. وروسته ملکې خپلو ساتونکو ته په ټيټ غږ وويل: ورشئ هغه بېرته راولئ. وزوزی يې بېرته صندوق ته راوست. ملکې هغه په غېږ کې ونيو او بخښنه يې ترې وغوښته.

